# شريعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱٦٦ ګڼه / پنجشنبه ۰۷ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰۷ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۷ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


## ترکي ډيپلومات د افغانستان لپاره خپلواک مفتش وټاکل شو



د ملګـــرو ملتونــو عمومي منشي انتونيو ګوتريش د ترکيې ډيپلومات فريدون سينيرلي اوغلو د افغانستان په چارو کـــې د ځانګړي همغږي کوونکي او خپلواک مفتش په توګه ټاکلی دی. په نيويارک کې د ملګرو ملتونو له دفتر څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د سينيرلي اوغلو ټاکل د دغه سازمان د امنيت شورا د ۲٦۷۹ نمبر پرېکړه ليک پر بنسټ تر سره شــوی دی. سرچينې زياته کړې، د ملګرو ملتونو سرمنشي له سينيرلي اوغلو څخه غوښتي چې د افغانستان د وضعيت د خپلواکې ارزونې مشري وکړي او د افغانستان پر وړاندې د شته ننګونو د حل لپاره د يوې همغږې او واحدې تګلارې په اړه وړانديزونه راوړي.

## نجات کودکی پس از ۱۸ ساعت از یک چاه عمیق

شریعت: تیم‌های تخنیکی، صحی و مجاهدیـــن وزارت دفـــاع ملـــی موفق به نجات جان کودکی از یک چاه عمیق در فـــراه گردیدند.دفتر مطبوعاتی وزارت دفـــاع ملی روز گذشته با نشـــر خبرنامه‌یی گفت: کـــودک چهار ســـاله‌ای که در یک چاه عمیق در ولایت فراه فرو افتاده بود از ســـوی مجاهدیـــن وزارت دفـــاع ملـــی نجات داده شـــد.این کودک یـــک روز قبـــل، در منطقه خیرآبـــاد ولایت فـــراه در یک چاه فرو افتاده بود و در عمق ۳۰ متری چاه گیرمانده بود، که خوشـــبختانه توســـط تیم‌های صحی و تخنیکی وزارت دفاع ملی ص۵



### مارټين ګرفټس:

## نړۍ باید له افغانانو سره د مرستو ژمنې عملي کړي

په بشـــري مرســـتو کـــې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي مارټين ګرفټس پرون ناوخته د ايران په پلازمېنې تهـــران کې يوې خبري ناســـتې ته ويلي چې نـــړۍ بايد له افغانانو ســـره د بشـــري مرستو لپاره کړې ژمنې عملي کـــړي. نوموړي ويلي چې مرسته کوونکو هېوادونو وړاندې ژمنه کړې چې له افغانستان ســـره به ۴.۶ ميلیارده ډالره مرســـته کوي او په خبره يې، اوس يې وخت دی چې دغه ژمنـــې عملي کړي. د ملګرو ملتونـــو اړوندو ادارو تر دې وړانـــدې هم پـــه افغانســـتان کې د بشـــري حالت پر خرابېدو اندېښنه څرګنده کړې وه.



## آغاز روند گسترش خدمات مخابراتی به ساحات دوردست پکتیا



مسئولان ریاســـت مخابرات پکتیا از آغـــاز روند نصب پایه‌های جدید مخابراتی در ساحات دوردست این ولایت خبر می‌دهند.

آنـــان این اظهـــارات را در مراســـم افتتاحیـــه آنتن‌های نصب شـــده از سوی شرکت مخابراتی افغان بیسیم در ولسوالی زرمت پکتیا بیان کردند.

ســـلام شـــریفی، مســـئول شرکت افغان بیســـیم در زون جنوب شرق می‌گوید: «امروز در منطقه سهاک ولسوالی زرمت، سایت افغان بیسیم را افتتـــاح کردیم. با ایـــن کار، مردم سهاک از کیفیت بهترص۵

## شرکت برشنا در یک هفته نزدیک به ۵۰۰ میلیون افغانی عاید نموده است





شـــرکت برشـــنا، در طی هفته دوم ماه حمل از دوازده ولایت کشور، ۴۹۰ میلیون و ۲۹۲ هزار و ۳۰۹ افغانـــی، عوایـــد صرفیه بـــرق را بدست آورده است.این شرکت، با نشر خبرنامه‌یی گفته است که این عواید از سوی مســـوولان آنان در دوازده ولایت کشورص۵

## هشدار از وقوع سیلاب و بلند آمدن سطح آب دریاها

شـــریعت: وزارت انـــرژی وآب، از احتمال وقوع ســـیلاب و ازدیاد ســـطح آب دریاها در حوزه‌های دریایی پنج آمـــو، کابل و هلمند، خبـــرداده اســـت.این وزارت روز گذشته با نشـــر رشته تویتی گفت کـــه بنابـــر تغییرات اقلیمـــی و بر اساس پیشـــبینی اداره هواشناسی کشور، احتمال ریزش باران همرا با ســـیلاب و ازدیاد سطح آب در حوزه‌هـــای دریایی پنج آمو، کابل و هلمند، وجود دارد.در خبرنامه آمده اســـت که احتمال وقوع این ســـیلاب‌ها در مســـیر دریاهـــای بغلان، پنجشـــیر، غوربند، لوگر، میـــدان، کابـــل، پکتیـــا، پکتیکا، خوســـت، کنر، لغمـــان و غزنی متصور اســـت و ایـــن احتمال از امروز تا ۸ ثور اعتبار دارد.

## بازداشت حامل مواد مخدر به زندان خوست

ادارۀ تنظیم امور زندان‌ها، از بازداشت مردی به دلیل انتقال مواد مخدر به زندان ولایت خوســـت، خبر داده است.این اداره، در خبرنامه‌یی نوشته اســـت که این پایواز با جاه به جاه سازی مقداری شیشه در چپلی‌اش، قصد انتقـــال آن را به داخل زندان داشت، اما پس از بازرسی از سوی نیروهای کشفی و امنیتی بازداشت شد.پیش از این، در نتیجه بازرسی نیروی امنیتی و کشفی در زندان‌های فراه و سرپل، دو پایواز نیز به دلیل انتقال مـــواد مخدر به داخل زندان، بازداشت شده بودند.

## ۷میلیونه افغانانو ته د کرونا ضد واکسین تطبیق شوی





د ماشـــومانو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونـــو مرســـتندوی صنـــدوق يا يونيسف وايي، په افغانستان کې ۷ ميليونه کســـان د کرونا ويروس پر وړاندې بشپړ واکســـين شوي دي. دغـــې ادارې پرون په ټويټر کې دغه جزييات خپاره کـــړي دي. د کرونا ضد واکسين په باب دا ارقام۵مخ

## لوګر کې زرګونو ښوونکو او زده کوونکو درسي توکي ترلاسه کړل

د لوګـــر پوهنې رياســـت د ۲۷۵ ښـــوونځيو پر ۲۳۰۴ ښوونکو او ۷۵٦٦۰ زده‌کوونکو درسي توکي وېشلي دي. ياده مرسته ۵مخ




کوم لاملونو دي چې اسلامي امارت يې متحد ساتلی؟ ۲مخ

حُريت او پيشرفت ۳ مخ

راه‌های جلوگیری از گرمازدگی ص۴


### سرمقاله

## آدرس دقیق مردم افغانستان امارت اسلامی است

مردم افغانســـتان بیش از چهاردهه درآتش جنگ های خانمانســـوز که اغلب هیزم آن از بیرون کشـــور تهدید می گردید ،ســـوختند وباهزاران چالش اجتماعی ، اقتصادی ،فرهنگی ومهاجرت ها، نیز دســـت و پنجه نرم کردند، ازاینروســـت که امروز مردم تشنه به صلح افغانستان ازامارت اســـلامی دفاع وحراست می نمایند ،زیرا این نظام علاوه برحکومتداری خوب، امنیت سراسری ومطمین رانیز درکشور تأمین وباگذشت هرروز ثبات سیاســـی وامنیت نیز گســـترده تر ومحکم تر می گردد، اما طوری که دیده میشـــود ،هســـتند کشـــورهای مغرض ومداخله گر درقضایای افغانستان که این امنیت وثبات را به نفع خود نمی بینند ،علاوه برگذاشتن شـــرایط برای به رسمیت شـــناختن و پروپاگند های غیرواقعی و دور از حقیقت ، شـــماری از افـــرادی را که به بهانه تحولات سیاســـی، نظامی وایجاد فرصت ،افغانســـتان را ترک کردنـــد ، امروز به عناوین مختلف ، توســـط نهادها وانستیتوت های به اصطلاح بین المللی آن هم در غایب نمایندگان امارت اســـلامی، دعوت می نمایید تا پیرامون قضایای آینده افغانستان تصمیم بگیرند، درحالیکه اگر این شرکت کنندگان به نام های اعضای رسانه ها،جامعه مدنی، وکلایی شورای ملی واشخاص سیاسی دربیســـت سال گذشـــته ،کارنامه های قابل لمس می داشتند ومزد بگیر خارجی ها نمی بودند ،برعکس مانند اشـــخاص ملی درراستای صلح ، امنیت ،توسعه پایدار، اســـترداد استقلال سیاسی ، استحکام پایه های وحدت ملی وانکشـــاف متوازن کار می کردند ، امروز بدون هیچ گونه نګرانی در داخل کشور برای مردم دردمند افغانستان مصدرخدمت ص۲

## تېره مياشت له ايرانه ۵۴ زره کډوال راستانه شوي

شريعت: د ۱۴۰۲ لمريز کال (د وري مياشتې د لومړۍ تر ۳۱ مې نېټې) ۵۳ زره۹۹۹ تنه دوربېنموپُل له لارې هېواد ته راستانه شـــوي دي.د نيمروز ولايت د کډوالو او بېرته راســـتنېدونکو چارو رياست مســـوولين وايي، چې په دغو کسانو کې ۷۹۲ کورنۍ، (۳ زره ۳۱۴) تنه او همدارنګه ۵۰ زره ۶۸۵ تنه مجرد افغان کډوال له ايران څخه دوربېنموپُل له لارې هېواد ته راستانه شوي دي.



## کونړ د اختر په ورځو کې د ۳۰ زرو سيلانيانو کوربه‌و

شـــريعت: د کوچنـــي اختـــر په شـــپو ورځـــو کې د هېـــواد د بېلابېلـــو ولايتونو شـــاوخوا ۳۰ زره ســـيلانيانو د کونـــړ له طبيعي ښـــکلاګانو څخـــه ليدنـــه کړې ده.د دغه ولايـــت د اطلاعاتو او کلتور رياســـت مسـؤلين وايي، چې شـــاوخوا ۳۰ زره ســـيلانيان د اختـــر په دې شـــپږ ورځو کې د نـــورو ولايتونو نه کونـــړ ته راغلي او تر خپله وســـه يې د ســـيلانيانو لپـــاره آســـانتياوې برابـــرې کړې دي.د مسؤلينو په وينا، چې هڅه کوي د ســـيلاتيانو پر وړاندې شته ســـتونزې هـــواري او ورته لازمې آسانتياوې برابرې کړي.

## اعمار یک مدرسه دینی به ارزش ۲۰ میلیون افغانی در فاریاب

شریعت: مسوولان در فاریاب از آغـــاز کار اعمار یک باب مدرســـۀ دینی و یک چوک به ارزش ۴۰ میلیـــون افغانی در ولســـوالی اندخوی آن ولایت خبر می‌دهند.

ســـنگ تهـــداب یـــک بـــاب مدرســـه دینی که داری ســـه طبقـــه می‌باشـــد، به شـــکل پخته و اساســـی به ارزش ۲۰ میلیـــون افغانی بـــه همکاری وزیر زراعت و مردم محل و یک چوک در مرکز ولســـوالی اندخـــوی به نام چـــوک یما پطرولیم توســـط این شرکت خصوصـــی بـــه ارزش ۲۰ میلیـــون افغانـــی بـــه حضور داشت...ص ۵

## تقدیر از نیروهای امنیتی سرپل



مســـوولان محلـــی ســـرپل از فعالیت و کارکردهای نیروهای امنیتـــی جهت تأمین امنیت بهتر شهروندان تقدیر کردند. محمد یعقوب عبدالرحمـــن اکه والی سرپل در مراســـمی، از فعالیت های همیشگی و خستگی ناپذیر نیروهای دلیر امنیتی ص۵

# کوم لاملونو دي چې اسلامي امارت یې متحد ساتلی؟

امین وردک

رښتیا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت نفوذ، رسوخ اتحاد او په ټولنه کې یې بې ساری محبوبیت ته نړۍ ګوته پر غاښ ده!

بلې! نړیوال حق لري چې حیران شي.

د اسلامي امارت خښته یوه داسې سړي اېښې؛ چې نه یې قدرت لرلو او نه هم ثروت؛ د مدرسې خړپړ طالب، جسماً ضعیف او پر یوه سترګه معذور هم و. لومړی حرکت یې له یکي یوه ملګري سره پر موټر سیکل پیل کړ؛ هغه هم کوم چا په مرسته کې ورکړی و.

حرکت یې په داسې حال کې پیل کړ، چې افغانستان ملوک الطوائفیو لاندې کړی و او د هرې ډلې شاته به سیمه ییزو او نړیوالو استخباراتو بټرۍ ایښې وې، چې د دوی جنګي حربو ته چارجونه ورکړي.

افغانستان لومړی پر دوو برخو (شمال او جنوب) وېشل شوی و، بیا یې ظالمانو هره برخه څو څو وارې نوره هم سره ټوټه کړې وه.

زما کم کم په یاد دي (ځکه چې هغه مهال ماشوم وم) چې کله موږ دوه کسه له وردګو د کابل کوټه سنګي ته ورسېدو، نو هلته د همغې ډبرینې کوټې تر څنګ یوه پوسته وه چې له رېګه (له ډکو بوجیو نه) جوړه شوې وه او په منځ کې یې دهشکه نسبه وه، میل یې د قبلې خوا ته و او شاته یې، یو کم عمره ببر سر والا هزارګی هلک ګوته پر ماشه ولاړ و، هاخواته (یانې شمال لوري ته) بیا دا اوسنی بلند منزل ساختمان چې هغه مهال یې یوازې اسکلیټ بندي شوې وه- تش تور ولاړ و او په هر منزل کې یې جنګیالي ګوتې پر ماشو تاوېدل را تاوېدل، چې خلکو به ویل؛ وایې دا د مزاري، د لېوني قومندان (شفیع دېوانه) جګړه ماران دي او دوی د سیاف پغمانیو ملېشو او د مسعود پنشېریو ملېشو ته داسې نیغ نیغ کېږي.

بیا له دغه ځایه په یوه ټیکسي موټر کې د سېلو پر سړک ښار ته لاړو (ځکه چې د دهمزنګ خوا ته د جګړې لومړۍ لیکې وې او د عامو خلکو لپاره پر دغه لوی سړک تګ راتګ بند و) کله چې ده افغانانو ته ورسېدو او بیا د ښوونې او روزنې وزارت ته لاړو، نو هلته ماته هر څه عجیبه ښکارېدل! ځکه چې زه هغه مهال د مدرسې یو کلیوال طالب وم، خو هلته به مې چې نیمه لوخ سرونه ښځې لیدلې حیرانېدم به.

دغه سیمه د مسعود، دوستم او رباني په ولکه کې وه او هغوی نسبت ځینو نورو ته آزاد خیاله وو.

بیا لاړو پل باغ عمومي ته، له هغه ځایه د خښتین پله (پل خشتی) جامع جومات پر لوري د شهزاده سرای مخې ته د کابل سېند پر غاړه روان شوو؛ خو یوازې موږ دوه لېونیان پر دغې لاره ښکارېدو او بس؛ ځکه چې دلته هم د جګړې بیخي ډېر خطر و! له همدې امله څوک دېخوا ته چندان نه تلل.

کله چې د جومات صحن ته دننه شوو؛ نو دېوالونو، غولي او آن (په جومات کې دننه) فرشونو لا مرمۍ خوړلې وې.

په هر حال!!! کوڅه په کوڅه داسې جګړې وې چې تاریخ ټولې ساتلې، خو ځینو خلکو هېرې کړې دي، ځکه خو چې کله د امریکایي اشغال سره یو ځای د هغه وخت جلادان، ورونه او زامن یې بېرته راغلل، نو غربیانو درانه درانه القاب ورکړل، د کابل او نورو ښارونو واټونه یې د دوی پر نومونو ونومول؛ همدا راز به پر هر چوک او د ښاروالۍ پر هره لوحه د دوی انځورونه ځوړند وو.

نه! خلکو نه وو هېر کړي او نه یې هېرولای شي، بلکې د مستبدد حاکمیت له امله یې د انتقاد جرئت نشو کولای، ځکه خو به چې ځینو مازې ورته وکتل، نو رنګونه به یې سره او شنه واوښتل، مګر له ډاره یې سوڼ نشوی وهلی.

خو دا چې د ملت په منځ کې (من المومنین رجال...) د اسلامي لښکر سرښندونکو ته د هغوی ظلمونه او وحشتونه نور د تحمُل او زغم وړ نه وو، ځکه خو پسې را ووتل او تر باغو یې واړول.

خیر!!! تر دې خبرو به تېر شو او را به شو اصل مطلب ته، چې هغه د دغې خبرې ځواب دی: (کومو لاملونو اسلامي امارت یو موټی ساتلی؟) شک نشته چې اتحاد تر تصمیم وړاندې لا د بري لومړی شرط دی.

لاملونه ډېر دي خو زه به یې یو څو ستاسو درانه حضور ته ډالۍ کړم.

ا - سپېڅلی هدف او بې ریا حرکت.

ب- د امیر اخلاص او د ملګرو اطاعت.

ج- ریښتینی خدمت او ملي ملاتړ.

د- عدم تعصب او عدم تبعیض.

ه- ملي مفکوره او مستقلانه موقف.

و- جسورانه عمل او شجاعانه تعامل.

ز- پرېکنده دریځ او پر وعدو وفا.

که څه هم چې کمۍ او کاستۍ لا شته او ځینې مخلصین ملګري ځوروي، خو هغه د اسلامي امارت د دائمي ستراتېژۍ اجزاء نشو بللی؛ بلکې په مرور د زمان به انشاءالله هر څه سم او عادي حالت ته را وګرځي، لکه د نظام په رهبرۍ او کابینه کې عدم تعادل، یا هم اندک سمت او نژاد بازي، خپلوي، ملګري او دې ته ورته ځینې نور شیان؛ لکه پر مکاتبو او پوهنتونونو ځینې موقتي تحریمونه! خو تاسو باور وکړئ چې دا شیان جزئیات دي، دا زموږ د پرمختګ او افتخار مخه نه نیسي، نو له ټولو مهمه دا چې؛ دا خلاوې به خامخا ډکېږي انشاءالله، مشران کلک ورته متوجه دي؛ خو ځینې داسې موارد شته چې اوس خنډ شوی اما لرې کېږي ان شاءالله.

تاسو وګورئ! خلک له فعلي نظام څخه څومره راضي دي! هغوی پوهېږي، فکر کوي، دا تفکیک او توپیر کولی شي چې تور کوم دي او سپین کوم؟ سمه ده! نن به ملا او مولوي پر مسلکي څوکۍ تکیه لګولې وي، چې په حرفوي او تخنیکي کارونو به سم نه پوهېږي او موږ به خفه وو (چې ګنې کار مخته نه ځي،یا که ځي هم معیاري نه ځي، بلکې مناسب یې نه بولو) مګر زه وایم چې: همدغه مولوي د نجات فرښته الله پاک درته رالېږلي، نو شکر وباسئ! که مسلکي نه دي، مخلص خو دي! ترحم خو لري! پر ځان، تا او ما خو یې زړه سوزېږي.

همدغه غیر مسلکي ملا او مولوي دی چې له حکومتي دستګاه یې د فساد جرړې پر کمېدو کړې او انشاءالله چې په راتلونکي کې به یې یو مخ و هم باسي.

بله خبره واورئ!

حوصله وکړئ! اوسني مشران ټول سرپرستان دي! دوی به یې هر یو نافذه قوانینو ته ځانونه برابروي، یا به له دندو لرې کېږي او له نظامه به وزي؛ تاسو لږ ساړه وخورئ! ټول کارونه په دوو، درېیو، پنځو او آن لسو کلونو کې نه سمېږي.

همدا اوس زیاتره مشران کوښښ کوي چې خپل اولادونه مسلکي و روزي، ځکه چې دوی اوس پوه دي؛ چې که دوی کوم وخت له دندو لرې هم کړل شي، نو زامن به یې وګمارل شي چې دا بیا د ټولو په ګټه ده! ځکه چې دوی به هم فکراً جوړ وي او هم به مسلکي شي، نو به اېله بېله موږ د نورو له احتیاجه ووزو او پر خپلو پښو به ودرېږو ان شاءالله.

صبر وکړئ! په جګړو کې آسان چاغېږي نه! ډنګرېږي. داسې خو نو منې که نه بهلول کړي وي، نه کجکول او نه هم ملا نصرالدین چې هېواد ازاد کړي، ټول غرب ته ماتې ورکړي او بیا نو څوکۍ بېرته همغو شلغم سریو ته وسپاري او دوی کورو ته لاړ شي؛ نو خو بېرته همغه خرک او همغه درک کېږي.

دا مسلکیان ماماګان خو دا څو لسیزې پر څوکیو شلم شلم ناست وو! نو څه غرونه یې چپه کړل؟

د دوی بنیادي کارونه ماته وښیئ؟ هو! ځینې کارونه وشول چې موږ سترګې نه پرې پټوو، بلکې تحسینوو یې؛ لکه د سلما بند، تریوه حده د مالي سیستم مرمت او د ځینو نورو لویو اقتصادي پلانونو، ماسټر پلانونو تعقیب او ځینې تخنیکي چارې یې؛ خو نسبت کافي وخت او بسنده مالي امکاناتو ته په کتو سره داسې اقدامات پر ((هېڅ)) ګڼل کېږي.

په هر حال! کوښښ وکړئ چې نوي نسلونه سم و روزئ! له دغو زړو بلاوو خو څه نه جوړېږي، ځکه چې څه یې کړي نه دي! بس دوی دې ګیلې مېلې نورې نه کوي، فقط خپل اولادونه دې مسلکي وروزي؛ څو کاله وروسته به د دوی او زموږ د نسلونو تر منځ کوم ځانګړی توپیر نه وي او په ګډه به حکومتي چارې مخته وړي انشاءالله.

ځینې ملګرې ماته وایي چې: امینه وروره! ته خو پر دوو سرو روان یې ؛ کله پر وزیرانو نیوکې کوې او کله بیا د نظام کلکه پلوي؟ زه ورته وایم چې: وا ورونو! هر شخص، هره ټولنه او هر نظام د ضعف او د قوت نکتې لري؛ نو موږ باید هم د ضعف نکتې په ګوته کړو او هم د قوت.

بله خبره د افرادو، اشخاصو او نظام ده؛ ما هېڅکله هم پر دغه پاک صف (اسلامي امارت) انتقاد نه دی کړی، نه یې کوم او نه خو به یې وکړم انشاءالله؛ البته تر هغې چې تر دغه (سپین لښکر) بهترین صف و نه وینم او فعلاً مې دا یقین دی؛ چې د دغه پاک صف بدیل نشته!

نو کوم جاهل به یې مخالفت کوي!!!

هو! پر وزیر صاحبانو به نو خُد انتقادونه کوو، خو ځانونه دې اصلاح کړي او د ملت پر سرنوشت دې لوبې نه کوي؛ نو څه چې نن وزیر یا رئیس دی، سبا به پر کور ناست وي! هو! د اسلامي امارت پالیسي او د افغانستان سیاسي فضا همداسې ده؛ چې که لږ کوږ شوې شړي دې!!! خو موږ به په حقه انتقاد کوو انشاءالله نه په ناحقه! ځکه چې په ناحقه انتقاد خو جوت بغاوت دی او رنه ګناه ده، الله مو دې ترې وساتي.

اما پر نظام له انتقاد څخه خو زه په معنوي توګه ډارېږم! ځکه چې همدغه ګلاب اسلامي امارت مو د اسلام ګردجن او مړاوی تاریخ بېرته ځلاند کړ او ټولې غربي دسیسې یې دلته له پیازو او ګشنیزو سره درې ورې کړې او د اسلام توغ یې تر ټول بیرغونو لوړ کړ.



## لحظه ها را گذراندیم که به خوشبختی برسیم؛ غافل از آنکه لحظه ها همان خوشبختی بودند.

دکتر علی شریعتی

## آدرس دقیق مردم . . .

می شدند ،هرچند که امارت اسلامی ، کمیسونی را برای عودت اشخاص سیاسی به کشور، ایجاد و کارنامه های مثبت نیز این کمیسون دارد، اما دیده می شود که شماری ازافرادی که خواب دوباره به قدرت رسیدن درافغانستان توسط بیرونی ها را درسر دارند، درتلاش اند که با اشتراک نمودن درنشست های بیرونی ، خود را مطرح نمایند در صورتی که اگر غیر جانبدارانه به این مساله بپردازیم واضح است که این افراد امروز درملک بیگانه غریبه و سرگردان وبایک صدای انستیتوت غیردولتی ، پاوسرنشناخته درآن حضور به هم می رسانند. بنابرین مردم افغانستان از انستیتوت های استخباراتی وافراد فرصت طلب، تقاضا دارند که اگر روی تعامل با افغانستان کار می کنند، آدرس دقیق مردم افغانستان ونظام حمایتی شان ،امارت اسلامی است که باید به این آدرس مراجعه و مشکلات شان را مطرح نمایند تا دریک اجماع ملی و مذهبی به آن پرداخته شود درغیرآن مردم افغانستان با بهای خون وجان نصاری های فراوان وسپری کردن روز های طاقت فرسا ،آزادی واستقلال خود رابه دست آورده ، هیچ گاهی به خون شهدا معامله نمی کنند ، اما امارت اسلامی افغانستان باب مذاکره دولت با دولت را بازگذاشته تا مشکلات بین المللی وموضوع به رسمیت شناختن امارت اسلامی از راه تفاهم وتسامح با این کشور ها ، حل وفصل گردد.

# حُریت او پیشرفت

**غلام نبي گل**



یوه خبره باید د امارت اسلامي چارواکي درک کړي، چې بې له وړتیا، شایسته ګۍ او تخصصه نه ملت جوړېږي. نه عدالت قایمېږي او نه پیشرفت صورت نیسي.

ټولنه دا مني چې طالب د تاریخ څپړې نه هم ځان بچ کړ او هم خپل ملت، خو په دې خاوره ډېر نور هم شته چې تاریخ یې پر مخ د څپړې ورکولو جرئت نه شي کولای. زما د لیکنې تمرکز په همدې خبره ده چې څنګه د خپل د سوونو کلونو ناخوالو او کړاوونو نه د ډک تاریخ پاڼې واړوو او یو نوی باب پرانیزو.

نننی اسلامي امارت هغه د دوو نیمو لسیزو وړاندې د شر او فساد پر ضد د عمومي پاڅون سرلاری طالب نه دی، چې نه یې حزب درلود، نه مخکنۍ برنامه او مرامنامه، خو اوس طالب په طالبیزم یعنې یو فکر بدل شوی. داسې یو فکر چې په معاصر تاریخ کې پیشینه نه لري.

که همدا طالبیزم یو جهت پیدا کړي او په دوو شعارونو (حُریت او پیشرفت) کې یې خلاصه کړو، دا په واقعي معنا یو فکري مکتب شو. په دې باندې کتابونه لیکل کېدلای شي، محکوم ملتونه دا د خپلې مبارزې سرلیک ګرځولی شي. او که دا طالبېزم د خپلې خېټې، خور او خوریي، قوم، ژبې، سمت او مذهب په محور راوڅرخېده بیا خو د شر او فساد پر ضد د طالبانو تر رهبرۍ لاندې د دوو نیمو لسیزو وړاندې پاڅون هم یو اشتباه وه او د اشغال او د ګوډاګیو پر ضد هم زموږ پاڅون تر سوال لاندې راتللی شي.

د اسلامي امارت نه هیله مندي دا ده چې دا عظیم او سرښندونکی ملت د حُریت او پیشرفت سره داسې غاړه غړۍ کړي چې بیا یې هیڅ استعماري قدرت د جلا کولو توان ونه لري او په دې خاوره کې ګوډاګي توب پای ومومي.

د انقلابونو تر بري وروسته انقلابیون همېشه په داسې مشترکو شعارونو پسې ګرځي، چې ملت پرې راغونډ او یو موټی کړي او په فعلي شرایطو کې زموږ ملت په همدې شعارونو یو لوری موندلی شي. د دې لیکنې په سر کې موږ دې خبرې ته اشاره وکړه چې غیر له طالب نه په دې ټولنه کې د هغو افرادو کمی نشته چې تاریخ یې په مخ د څپړې ورکولو جرآت نه لري. دا افراد که د تنظیمونو او احزابو په بڼه دي او یا په انفرادي ډول خو د حُریت لپاره به یې د مبارزې بڼه له اسلامي امارت سره متفاوته وه. همدا پراخه قشر د اسلامي امارت سره په ګډه د حُریت د ساتلو او د هیواد د اقتصادي او اجتماعي پیشرفت لپاره په یو پراخه ځواک او نیرو بدلیدلی شي. لدې سره له یوې خوا د نړیوالو پوښتنې ځوابېږي او له بلې خوا د هیواد د ترقۍ لپاره تر یو حده د کدرونو تشه ډکېږي.

زموږ د تېر معاصر تاریخ د چارواکو اشتباهاتو ته په کتو چې د واک پر سر ورور د ورور سترګې ووېستې، زوی خپل پلار مړ کړ، هېواد یې پېړۍ پېړۍ له خپل طبیعي رُشده پاتې کړ. دا ټول په دې وجه چې موږ د حکومتولۍ یو فورم یا چوکاټ ته داخل نه شو. اسلامي امارت ته دا یوه بنیادي مسئله ده چې په دې فکر وکړي او راتلونکو نسلونو ته واک ته د رسېدو او یا د دولت دارۍ یو سیستم رامنځته کړي. د اسلامي امارت فعلي چارواکي چې اشغال ته یې خاتمه ورکړې او هېواد ته یې خپلواکي بښلې ملت یې په سر سترګو مني. اما د دوی زامن خو نه مني. هغه خو بیا بل نسل ده. له روسانو سره د جهاد د وخت د رهبرانو زامن هم چا ونه منل او ډېر یې په ټولنه کې منفورترین خلک ثابت شول.

اصلي خبره دا ده چې موږ خو سیاسي ازادي خپله کړې. اما د اقتصادي ازادي په برخه کې خو د سوال ټیکلي ته ناست یو. اقتصادي ازادي هغه وخت خپلولی شو، چې موږ د تعلیم له لارې کدرونه وروزو. د حکومتولۍ یو سیستم رامنځته کړو. خپل پیشرفت او حُریت ساتل د یو قانون په واسطه تنظیم کړو.

په دې ټول سره پوهېږو او هغه دا چې موږ خو تر دې وړاندې هم بار بار اشغال ګر مات کړي او سیاسي ازادي مو خپله کړې، خو بیا مو د اقتصادي ازادۍ فکر نه دی کړ، تعلیم او د کدرونو روزل مو د اقتصادي ازادۍ کیلي نه ده بللې، د جنسیتي توپیرونو پر وړاندې نه یو درېدلي، د ملت جوړېدنې د تهداب خښتې مو نه دي ایښې، د یو قانون مند دولت تر چتر لاندې نه یو راټول شوي، د دین او وطن پالنې په روحیه مو اولادونه نه دي روزلي. نو په پایله کې مو د سیاسي ازادۍ په شمول هر څه له لاسه ورکړي او بیا مو د صفري نقطې نه شروع کړې. د اسلامي امارت کمال به دا وي چې زموږ راتلونکي نسلونه دې ته اړ نه شي چې زموږ په شان بیا له صفري نقطې شروع وکړي.

و ما علینا الا البلاغ

# د ثور کودتا

**الحاج غلام جیلاني حق پرست**

۴۵ کاله وړاندې په همدغې ۱۳۵۷/۳/۷ ه.ش) نېټه په افغانستان کې د خلق او پرچم ډلګیو له یوې خوا د یوې خونړۍ کودتا په ترڅ کې د وخت د واکمن سردار محمد داود خان حکومت نسکور او د اور، وینو او اوښکو یوه اوږده لړۍ پیل شوه. ددغې کودتا د جریان، عاملینو او پایلو په هکله ډېر څه لیکل شوي دي، تاریخ هرڅه په خپله سینه کې خوندي کړي دي. هرچا خپله څېره په اوبو کې ولیده، هرچا پر دېوال د خپل سیوري ننداره وکړه، دا چې څوک خپله اشتباه مني او څوک لا هم پخپل خره سپور او خپل جنایت ته بېلابېل توجیهات لټوي؛ د دوی خوښه ده، خو تاریخ د دینداره او بې دینه؛ وطنپال او وطن فروش، معمار او مخرب، سپین او تور په هکله خپله پرېکړه صادره کړې ده او په هېڅ صورت بدلېدای نه شي. لکه چې وړاندې مو وویل په دې هکله ډېر څه لیکل شوي، ویل شوي او مستند شوي دي، راځئ نن د دې لیکل شویو او ویل شویو اسنادو په رڼا کې د یادې کودتا په هکله څو لاندې ټکي وګورو او تحلیل یې کړو.

– هغه وخت چه دا کودتا وشوه د هېواد سیاسي، نظامي، اقتصادي او اداري وضعیت څه ډول وو؟

–د دې کودتا کورني او بهرني عوامل او محرکات څه وو؟

–دې کودتا ته زمینه څنګه او د چا له خوا برابره شوه ؟

–دغه کودتا یوه تصادفي او که پلان شوې پېښه وه؟

–له دغې کودتا اعظمي استفاده چا وکړه؟

–له دغې کودتا څوک ډېر زیانمن شول؟

–څه باید شوي وای چې دغه کودتا نه وای رامنځته شوې؟

–په دغه وخت کې د وخت د حکومت مسئولیت څه وو؟ څه ئې باید کړي وای؟

–ولس څه کولای شوای؛ چې باید کړي یې وای؟

–د وخت اردو، پولیس، استخبارات او بیوروکراسي خپل مسئولیت او مکلفیت ته تر کومه حده متوجه وو؟

–په مجموع کې حکومت او ولس د څومره اشتباه، غفلت او بې پروائې په جال کې ښکیل وو؟

او د دې خونړۍ کودتا نور اړخونه باید وڅېړل شي او د پرونیو ترخو تجربو د نه تکرارېدو او مخنیوي لپاره باید د خپل ځان، حکومت او ملت لپاره لاره او لوری وټاکو.

تاریخ او تجربه خورا بې بدیله استادان دي، باید له دوی زده کړه وکړو او که څوک له تاریخ او تجربې څخه درس وانخلي له بل یوه استاد څخه څه هم نه شي زده کولای.



# هند؛ چې یوه غوا په کې له مسلمان ډېر شرف لري!

**دادمحمد-ناوک**





اته کاله وړاندې، د هندوستان پارلمان«لوک سوبها» کې یو غړي شاشي تارړ اعتراف وکړ، چې په دې ملک کې چې لومړی وزیر یې د مذهب او بیان د ازادۍ سُرنی غړوي یوه غوا له یو مسلمان ډېره خوندي ده!

دا کېدای شي د هغه هندوستان په اړه چې زموږ ځوان نسل یې یوازې د بالیووډ له جادویي فلمي صحنو پېژني جالبه وي، ممکن زړه ته یې ونه لوېږي، چې د شاهرخ‌خان، سلمان‌خان، عامرخان او ګڼو نورو مسلمانو میلیونرانو او هنرمندو خانانو په وطن کې به د دوی مذهبي حیثیت دومره پرځېدلی وي!خو د تارړ له دې خبرې درې کاله وروسته د مدهیه پردېش په ساتنا ولسوالۍ کې د یوې غوا د حلالولو پر سر سراج خان ووژل شو او بل تن په کوما کې تر روغتونه ورسول شو؛ کیسه دلته نه خلاصېږي، بلکې د مسلمانانو پر ضد د هندو سخت دریځو موقف څکه ورځ په ورځ غښتلی کېده، چې د مسلمانانو پر ضد توند ګوند بهاراتیا جاناتا په واک کې دی او لومړی وزیر یې د مسلمانانو د ځپلو لپاره بېلابېل پلانونه لري.

مثلاً؛ د ۲۰۱۵م په فبرورۍ کې د هند سترې محکمې د مسلمانانو لپاره پر دویم واده بندیز ولګاوه، سره له دې چې د هند د اساسي قانون ۲۵مې مادې د نورو ادیانو پیروانو ته د ازادۍ تضمین کړی، خو سترې محکمې وویل چې دا «بنسټیزه دیني» موضوع نه ده؛ همدې کال کې بهار ایالت کې د مسلمانانو کلي ته څېرمه د یوې هندۍ پېغلې د مړې په پیدا کېدو سره، هندوانو د محکمې او عریضې پر ځای د دې کلي درې مسلمانان د دې د وژنې په تور ژوندي وسوځول. د اتر پردېش باغ پت ښار ته څېرمه په نواډا کلي کې دوه ویشت کلن ګلشن نامعلومو کسانو وواژه، کورنۍ یې د حکومت ټول ادرسونه لټ په لټ واړول خو چا یې غږ وانه وربېد؛ اخر یې «یووا واهنی بهارت» ډلې لار ور وښوده، چې تاسې ټول هندوان شئ موږ به درته د عدالت غږ پورته کړو، دې ټول کور کې یوازې مېرمن رقیه مسلمانه پاتې شوه، د کورنۍ مشر اختر علي درم سینګ شو، زوی یې دلشاد دلیرسینګ شو خو ۲۰۱۸م کال پرې ټول تېر شو، د عدالت څرک یې ونه لګېد. په همدې کال الجزیرې راپور ورکړ، چې د نریندرا مودي حکومت د اسام ایالت د مسلمانانو د شړلو هوډ لري، دوی پلان کړې چې د «ناسم خدای د عبادت او په ناسمه ژبه د خبرو له امله» به له پنځو میلیونونو مسلمانانو هندي تابعیت واخلي او اووه میلیونه به له خپلې خاورې وشړي؛ دوی ته د مسلمانانو پر وړاندې دا اقدامات کافي نه ښکاري، بلکې د همدې کال په نوومبر کې یې هوډ وکړ چې د هغو ښارونو نومونه هم بدل کړي چې اسلامي رنګ لري یا مسلمانانو ته منسوب دي، دوی فیض اباد او آله اباد له دې وړاندې بدل کړي وو، خو نوي هوډ کې یې د علي ګړ، لکهنو، احمد اباد، عثمان اباد او اورنګ اباد د نومونو تغییر ته نیت وکړ.

د اختر علي له څور کال وروسته، د دوی د ولایت په میرټ ښار کې حکومت دوه سوه کورونو ته اور ورکړ، چې دوی «ناقانونه ابادۍ» بللې او ډېر کورونه په کې د مسلمانانو وو، چې یو جومات هم په کې د اور خوراک شو او په همدې کال کې یې د تېر کال د بلې پرېکړې د یوې برخې د عملي کېدو اقدام هم وکړ، چې په کې یې د اسام ایالت له نږدې دوه میلیونه کسانو نه تابعیت واخیست. دوی مسلمانان چې قرنونه یې دلته ژوند کړی او د بې شانه تمدن ژوندۍ نمونې یې همدې هندوانو ته پرېښې دي، اباد ښارونه، تاریخي ودانۍ او علمي ذخیرې؛ بې هویته کوي، بې تابعیته کوي او له هېواده شړي؛ خو د غواګانو لپاره یې تذکرې پیل کړې او د ۲۰۱۷ز په لومړیو کې یې اعلان وکړ چې شاوخوا ۸۸ میلیونه غواو او مېښو ته برېښنایي پېژندپاڼې جوړوي. تازه اقدام کې دا څو ورځې وړاندې په تدریسي نصاب کې متعصبو هندوانو د خپل تاریخ زرینه، د بشري تاریخ ویاړمنه او د تمدني ژوند رنګینه حصه، د مسلمانو واکمنو تاریخ حذف کړ؛ دوی دا د یرغل تاریخ بللی او په وینا یې خپلو زده کوونکو ته نه ور زده کوي چې مسلمانان یې هم هېوادوال او حتی د دې آباد هندوستان موسسین دي!

# شعر و ادب

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

نورِ جان در ظلمت‌آبادِ بدن گم کرده‌ام
آه ازین یوسف که من در پیرهن گم کرده‌ام
وحدت از یادِ دویی اندوه‌ِکثرت می‌کند
در وطن، ز اندیشهٔ غربت، وطن گم کرده‌ام
چون نمِ اشکی که از مژگان فروریزد به خاک
خویش را در نقشِ پای خویشتن گم کرده‌ام
از زبانِ دیگران دردِ دلم باید شنید
کز ضعیفی‌ها چو نی راه‌ِسخن گم کرده‌ام
موجِ دریا در کنارم، از تک‌وپویم مپرس
آنچه من گم کرده‌ام نایافتن گم کرده‌ام
گر عدم حایل نباشد زندگی موهوم نیست
عالمی را در خیالِ آن دهن گم کرده‌ام
تا کجا یا رب نوی دوزد گریبانِ مرا
چون گل، اینجا، یک جهان دلقِ کهن گم کرده‌ام
عمرها شد همچو نالِ خامه، می‌پیچم به خویش
پیکرِ چون رشته‌ای در پیرهن گم کرده‌ام
شوخیِ پروازِ من رنگِ بهارِ نازِ کیست
چون پرِ طاووسِ خود را در چمن گم کرده‌ام
چون نفس از مدّعای جست‌وجو آگه نی‌ام
این‌قدر دانم که چیزی هست و من گم کرده‌ام
هیچ‌جا بیدل سراغِ رنگ‌های رفته نیست
صد نگه چون شمع در هر انجمن گم کرده‌ام

***

گهی حجاب وگه آیینهٔ جمال توام
به حیرتم که چها می‌کند خیال توام
مزاج شوقم از آب وگل تسلی نیست
جنون سرشته غبار رم غزال توام
کلاه گوشهٔ پروازم آسمان سایی‌ست
ز بس چو آرزوی خود شکسته بال توام
بس است حلقهٔ گوشم خم سجود نیاز
اگر به چرخ برآیم همان هلال توام
ز امتیاز فنا و بقا نمی‌دانم
جز اینکه ذره‌ِخورشید بی زوال توام
زمانه‌گر نشناسد مرا به این شادم
که من هم آینهٔ حسن بی مثال توام
سپند من به فسردن چرا نه نازکند
نفس گداختهٔ جستجوی خال توام
مباد هیچکس آفت نصیب همچشمی
حنا گداخت که من نیز پایمال توام
به چشم تر نتوان شبنم بهار تو شد
عرق فروش گلستان انفعال توام
به خود نمی‌رسم از فکر ناقصی‌که مراست
زهی هوس که در اندیشهٔ کمال توام
خیال وحشت و آرام حیرت‌ست اینجا
چه آشیان و چه پرواز زیر بال توام
خبر ز خویش ندارم جز اینکه روزی چند
نگاه شوق تو بودم‌کنون خیال توام
زمین معرفت از ریشهٔ دویی پاک است
چرا زخویش نیایم برون نهال توام
ز شرم بیدلی خود گداختم بیدل
دلی ندارم و سودایی وصال توام

# راه‌های جلوگیری از گرمازدگی




گرمازدگی موقعیتی حادّ و تهدید کننده زندگی است که در این حالت سیستم تنظیم کننده دمای بدن ، به دلیل قرار گرفتن طولانی مدت در هوای گرم یا تولید بیش از حدّ گرما در بدن و یا وجود هر دو حالت ، از کار می افتد.درحالت گرمازدگی بدن نمی تواند گرمای اضافی خود را دفع کند، در نتیجه دمای بدن خیلی افزایش می یابد که می تواند اندام های اصلی را تخریب کند.

**اثرات گرمازدگی بر بدن چیست ؟**

گرمازدگی خطری برای فرد ندارد و کشنده نیست، مگر اینکه در درمان گرمازدگی کوتاهی و سهل انگاری شود و به طور کامل و سر موقع درمان نشود. اگر بطور ناگهانی مکانیسم خنک کننده بدن از کار بیفتد، دمای مرکزی بدن آنچنان افزایش می یابد که می تواند در کمتر از نیم ساعت منجر به مرگ فرد شود.بعضی افراد چند هفته بعد از گرمازدگی فوت می کنند که به دلیل نارسایی کلیه یا قلب است.بیش از ۱۰ درصد افرادی که دچار این حالت می شوند، فوت می کنند. گرمازدگی باعث از کار افتادن و خرابی دائمی بعضی اندام ها مثل کبد می شود.

**برای جلوگیری از بروز گرمازدگی به توصیه های زیر عمل کنید :**

۱- برای جلوگیری از گرمازدگی وقتی که برای مدت طولانی در معرض تابش آفتاب یا در یک محیط گرم هستید و همچنین قبل و بعد و در طی ورزش، آب زیادی بنوشید.قبل از اینکه کاملاً احساس تشنگی کنید، آب بنوشید (یعنی منتظر نباشید تا احساس تشنگی کنید و سپس آب بنوشید) و هنگام نوشیدن آب بیشتر از آن حدّی که فکر می کنید نیاز به آب دارید، آب و مایعات بنوشید، مخصوصاً وقتی که خیلی عرق کرده اید.

۲- برای جلوگیری از گرمازدگی موقعی از روز را که هوا خیلی گرم است (مثل سر ظهر و بعد از ظهر) در منزل یا یک جای خنک استراحت کنید و بیرون نیایید.

۳-قبل از فعالیت زیاد و ایستادن در معرض آفتاب، سعی کنید به هوای گرم تابستان عادت کنید.سیستم تنظیم دمای بدن شما هنگامی که به گرما عادت کرده باشد، بهتر عمل خود را انجام خواهد داد.

٤- برای جلوگیری از گرمازدگی ،اگر یک دونده ی استقامتی یا یک دوچرخه سوار هستید و می دانید که مسابقات شما در شرایط آب و هوایی گرم برگزار خواهد شد، بایستی قبل از شروع مسابقه، خود را با این شرایط وفق دهید ( یعنی در هوای گرم، تمرین کنید ). این عمل باعث می شود بدنتان به گرما عادت کند.مواقع انجام تمرین به مقدار کافی آب و مایعات بنوشید.اگر اولین بار است که به شرایط آب و هوایی جدید رفته اید، تمرینات خیلی سنگین و سخت را انجام ندهید.

۵- کمتر جلوی نور خورشید بایستید.

٦- وقتی جلوی آفتاب کار می کنید، روی سرتان کلاه بگذارید که بهتر است لبه دار باشد تا روی صورتتان سایه ایجاد کند . سر شما نسبت به گرما حساس است.

۷- برای پیشگیری از گرما زدگی در هوای گرم لباس های گشاد ، نازک و رنگ روشن بپوشید. لباس کتان از همه بهتر است ، زیرا باعث می شود هوا به راحتی از آن عبور کند و عرق شما خشک شود.

۸- در هوای گرم پنجره ها را باز کنید یا از یک سیستم خنک کننده مثل پکه، کولر و فن استفاده کنید.

۹- سعی کنید وعده های غذایی تان را سبک و به مقدار کم میل کنید.

۱۰- برای جلوگیری از گرمازدگی در آب و هوای گرم یا مرطوب فعالیت شدیدی انجام ندهید به خصوص اگر به این آب و هوا عادت ندارید.

۱۱- اگر در هوای گرم ورزش می کنید،برای جلوگیری از گرمازدگی به ترتیب زیر آن را انجام دهید تا بدن شما به این آب و هوا عادت کند :

ابتدا تمرینات کوتاه مدتی انجام دهید و به تدریج و در طی دو هفته مدت آن را افزایش دهید. سعی کنید تمرینات شدید را صبح زود که هوا خنک است یا هنگام عصر انجام دهید.

هر نیم ساعت یک بار ، به مدت ۵ تا ۱۰ دقیقه در سایه استراحت کنید و اگر احساس خستگی کردید، سرعت ورزش خود را کاهش دهید.

۱۲- در صورتیکه دارو مصرف می کنید، از پزشک خود سئوال کنید که آیا این دارو با تنظیم دمای بدن شما تداخل می کند یا خیر؟ اگر داروی مصرفی شما در تنظیم دمای بدنتان مداخله می کرد، باید فعالیت بدنی تان را در هوای گرم کاهش دهید و به مقدار کافی آب و مایعات بنوشید.

۱۳- باید از علائم خطر گرمازدگی آگاه باشید تا هنگام بروز این علائم ، اقدامات لازم را انجام دهید. به خاطر داشته باشید که این علائم می توانند به تدریج و در طی چند روز یا اینکه بطور ناگهانی بعد از یک فعالیت شدید بروز کنند.

١٤- ادم ( آماس ) ناشی از گرما و عرق سوز شدن نشان می دهند که بدن شما تحت استرس ناشی از گرماست.در حالت ادم ناشی از گرما،رگ های خونی بدن گشاد شده و باعث می شوند مایعات زیر پوست بدن جمع شوند که در این صورت دست ها و پاها متورم می شوند. ممکن است ابتدا با احساس تنگ شدن انگشتر یا کفش ها متوجه این تورم شوید. در حالت عرق سوز، منافذ خروج عرق بسته می شوند و شما احساس خارش می کنید که معمولاً زیر لباس است. اگر لباس شما خیلی کلفت و گرم باشد ممکن است این حالت رخ دهد.

ادم و عرق سوز شدن خطرناک و مضر نیستند ، ولی نشان می دهند که باید برای پیشگیری از عوارض جدی گرمازدگی ، دمای بدنتان را کاهش دهید.

چه موقع نزد طبیب مراجعه نماییم؟

بروز گرمازدگی یک فوریت پزشکی است. اگر شما یا هر فرد دیگری علائم زیر را که مرتبط با گرمای هواست، از خود نشان دهد، فوراً باید به پزشک مراجعه کند:

- احساس سرگیجه
- خستگی بیش از حدّ
- آشفتگی
- درد شدید عضلات
- تب یا تهوع
- تشنج یا بیهوش شدن

## خوشنودی شهروندان بادغیس ...

وجود ندارد.عبدالشکور یک باشنده دیگر شهر قلعه نو نیز ازتامین امنیت راضی بوده گفت که امارت اسلامی شب و روز به خاطرتامین امنیت تلاش دارند وما مردم بادغیس عید سعید فطر را در فضای کاملاً آرام سپری کردیم.
محمد ایوب باشنده ناحیه دوم شهر قلعه نو نیز از امنیت درین ولایت راضی بوده گفت که ازبرکت امارت اسلامی امنیت در سراسر این ولایت تامین بوده مردم بخاطر آرام از طرف شب و روز ازهرات به بادغیس واز بادغیس به زون شمال کشور سفر کنند که الحمدالله امنیت تامین ومردم از آن استقبال می کنند.

## د لوګر مستوفیت ۱۲۰ میلیونه ...

او د دولت حساب ته تحویلي شوي دي. ده له خلکو وغوښتل، چې د مالیاتو په ورکړه کې دې له دوی سره پوره همکاري وکړي، چې د هېواد اقتصاد لا پسې غښتلي شي.

## اعمار یک مدرسۀ دینی به ارزش...

مولوی عطاء الله عمری سرپرست وزارت زراعت و مسوولین محلی این ولایت گذاشته شد. هم چنان یک باب مدرسه دینی دیگر در مرکز این ولسوالی به ارزش۳ میلیون افغانی از بودیجۀ مردم محل اعمار گردیده بود افتتاح و به بهره بر داری سپرده شد.

## امنیت در بدخشان تامین...

طی سه بار تجاوز انگلیس، روس و آمریکا به افغانستان، فرهنگ های اسلامی زیانمند و از لحاظ ترقی کشور را به عقب سوق داده است.
این شهروندان می‌گویند که در حال حاضر امنیت در مراکز ولایت ها، ولسوالی ها ، شاهراه ها و نقاط دور دست تامین شده است و جهت پایداری تامین امنیت از هیچ گونه همکاری با امارت اسلامی دریغ نورزیده و شکر گزاراند.
معزالدین احمدی رییس اطلاعات و فرهنگ بدخشان می گوید که با آنکه این ولایت با سه کشور همسایه مرز مشترک دارد هیچ گونه تهدید علیه منافع ملی ما و کشورهای همسایه نمی‌باشد و آنچه که رسانه‌های مغرض خارجی از اوضاع کشور نقل می‌کنند عاری از حقایق می باشد و مردم بار دیگر اجازه‌ی فعالیت‌های تخریبانه را به کسی نمی دهند.

## وضعیت صحی جو بایدن ...

که (۵ ثور) منتشر شد، در این نامه به کهولت سن بایدن، گاف های وی و نتایج نظرسنجی هایی که نشان می دهند بسیاری از امریکایی‌ها در مورد صلاحیت روانی رئیس جمهور تردید دارند، استناد شده است.
از سوی دیگر، مصاحبه اندک بایدن با رسانه‌های خبری سبب تقویت این گمانه شده که قصر سفید مایل است تا وی را از محیط های چالش برانگیز دور نگاه دارد. به گفته مارک نالر، خبرنگار سابق سی‌بی‌اس در قصر سفید، بایدن تا ۸ فبروری، ۳۳ مصاحبه در سمت ریاست جمهوری انجام داد. طبق گفته نالر، دونالد ترامپ در مدت زمان مشابه ۱۴۷ و باراک اوباما ۲۷۳ مصاحبه انجام داده بودند.
یافته های جدیدترین نظرسنجی حکایت از آن دارد که فقط حدود یک چهارم از مردم این کشور با نامزدی دوباره بایدن برای انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۲۴ موافقند.
خبرگزاری آسوشیتدپرس نوشت که فقط ۲۶ درصد از مردم امریکا و ۴۷ درصد از دموکرات‌های این کشور با نامزدی دوباره بایدن برای شرکت در انتخابات ریاست جمهوری آینده این کشور موافق هستند .
این نظرسنجی با همکاری آسوشیتدپرس و مرکز امور عمومی نورک دانشگاه پیرسون شیکاگو روز بیست و یکم آپریل (۱ ثور) برگزار شده است.
رئیس‌جمهور امریکا دیروز به صورت رسمی نامزدی خود در انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۲۴ را اعلام کرد و در ویدیویی از رای دهندگان خواسته تا به وی وقت بیشتری برای «تمام کردن کاری» که هنگام آغاز ریاست جمهوری‌اش وعده داده بود، بدهند و نگرانی‌های خود در مورد تمدید دوره پیرترین رئیس جمهور امریکا برای چهار سال دیگر را کنار بگذارند.

## د بغلان د ټولګټو ریاست ...

شوې وه، چې د وخت حکومتونه يې په بيرته راګرځولو کې پاتې راغلي وو.د مسؤلينو په وينا، دغه ودانۍ څلور جريبه ده او تازه يې ترې جوګيان ايستلي او له غصب څخه يې خلاصه کړې ده.په همدې مهال د مرکزي بغلان اوسېدونکي د ټولګټو رياست د دې اقدام هرکلی کوي او له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوي، چې ژر دې په دغه ولايت کې غصب شوي جايدادونه له غصب څخه خلاص کړي.

## کندهار کې د وړیو را ټولولو ...

کې د پسونو او وزو د وړيو راټولولو مرکزونه جوړېږي. موسی زياتوي، چې دا لومړی ځل دی، چې په ولسواليو کې خلکو ته په دغه برخه کې د کار زمنيه برابرېږي او تر څنګ به يې د مالدارانو او کوچيانو د پسونو او وزو وړۍ په ښه بيه خرڅېږي. هغه وويل، چې په يادو مرکزونو کې وړۍ راټولېږي او وروسته د نساجي فابريکې ته د بسته بندۍ لپاره استول کېږي.

## لوګر کې زرګونو ښوونکو ...

د يونيسف لخوا شوې چې شاوخوا ۳۵۸ زره امريکايي ډالره ارزښت لري. په دې مرسته کې هر ښوونکي ته د پنځه قلمه درسي موادو ډک يو کېټ او هر زده کوونکي ته يوه بکسه او ۸ قلمه د اړتيا وړ درسي توکي ورکړل شوي دي. د لوګر د پوهنې رييس جنت ګل عزيز له ښوونکو او زده‌کوونکو سره د يونيسف د ورته نورو مرستو غوښتنه کړې ده.

## شرکت برشنا در یک هفته...

در طی هفته دوم ماه حمل سال روان، جمع‌آوری شده است.در خبرنامه آمده است که مسوولان ریاست برشنا، در کابل، بلخ، پکتیا، جوزجان، سرپل، دایکندی، تخار، کندز، کاپیسا، پنجشیر، بامیان و پروان طی یک هفته توانستند این مقدار پول را از درک مصرف برق از سوی شهروندان کشور، جمع‌آوری کنند.با این حال، خبرنامه افزوده است که بیشترین عواید از ولایت‌های کابل، پکتیا و بلخ بدست آمده طوری که مسوولان این شرکت، بیشتر از ۲۷۰ میلیون افغانی را در کابل، نزدیک به ۱۵۰ میلیون افغانی را در پکتیا و ۴۶ میلیون افغانی دیگر را در بلخ جمع‌آوری کردند.
هم‌چنان، گفته شده است که نزدیک به دو نیم میلیون افغانی دیگر نیز به شکل متفرقه و به نسبت سایر خدمات برق رسانی به شهروندان، از سوی مسوولان شرکت برشنا جمع‌آوری شده است.

# پر الله تعالی توکُل د صادقو خلکو عبادت دی

## مولوي نورالحق مظهري

توکل پر الله تعالی د رښتیا ویونکو انسانانو عبادت دی او د مخلصینو لاره ده، الله تعالی په توکل کولو خپل را استول شوي انبياء او خپل اولیاء امر کړی دی او فرمايي: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِ وَكَفى بِهِ بِذُنُوبِ عِبادِهِ خَبِيرًا.[الفرقان۵۸] ژباړه: پر هغه ذات توکل وکړه چې ژوندی دی نه مړ کېږي او د ده په حمد تسبيح ووايه او د بندګانو په ګناهونو خبرېدونکی همدی کافي دی.
همداسې فرمایي: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ.[الشعراء۲۱۷] ژباړه: پر غښتلي او مهربانه ذات توکل وکړه.
همداسې الله تعالی عام مؤمنان پر توکل امر کړی او اووه ځایه یې په قرآن کې فرمایلي دي: وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ. ژباړه: پر الله تعالی باید مؤمنان توکل وکړي.
د توکل تعریف:
توکل په لغت کې په یو کار کې پر یوچا اعتماد کولو ته وايي او په اصطلاح کې د دنیا او آخرت په کارونو کې د مصلحت په راجلبولو او ضرر په دفع کولو کې پر الله تعالی د زړه باور کولو ته وايي.[العلوم والحکم لابن رجب]
او جرجاني رحمه الله فرمایلي دي: توکل پر هغه شي باور دی چې له الله تعالی سره شته او نا امیدي ده د هغو شیانو چې له خلکو سره شته.[التعریفات]
په اسبابو عمل کول د توکل سره منافات نه لري:
د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې دی وایي: یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زه خپله اوښه وتړم بیا توکل وکړم او که یې ایله کړم بیا توکل وکړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ویې تړه بیا توکل وکړه.[سنن ترمذي]
د توکل ډولونه:
۱- د خوب په وخت کې توکل کول.
براء بن عازب رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله (ص) وفرمايل: کله چې د خوب ځای ته ولاړ شې نو اودس وکړه لکه د لمانځه لپاره چې اودس کوې بیا پر راسته طرف ویده شه او داسې ووایه:
اللهم أسلمت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك، لا ملجأ ولا منجى منك إلا إليك، آمنت بكتابك الّذي أنزلت، وبنبيك الذي أرسلت، فإن مت من ليلتك فأنت على الفطرة، واجعلهنّ آخر ما تتكلم به».
ژباړه: ای الله! ما خپل مخ تاته تسلیم کړی، خپل کارونه مې تاته سپارلي، خپله شا مې تاته تکیه کړې په خاطر د شوق تا ته او ویرې ستا څخه، ستا څخه هېڅ د پناه ځای او نجات نشته مګر تا ته، ما پر هغه کتاب ایمان راوړی چې تا نازل کړی او ستا پر هغه نبي مې ایمان راوړی چې تا را استولی.
نو که ته په دغه شپه کې مړ شوې نو پر فطرت مړ شوی یې او خپلې آخرې خبرې همدغه وګرځوه.
۲- د لوږې راتللو په وخت کې:
په صحيح ترمذي کې حديث دی چې رسول الله (ص) وفرمايل: پر چا باندې چې لوږه راشي نو هغه يې خلکو ته وړاندې کړي لوږه يې نه ختمېږي او که يې الله ته وړاندې کړه نو ژر دی چې الله به اوس يا په راتلونکې کې رزق ورکړي.
۳- له دښمنه د مخ اړولو په وخت کې:
الله جل جلاله فرمايي: فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا. [النساء: ۸۱]
ژباړه: له دوی مخ واړوه او پر الله (ج) توکل وکړه او الله ضامن بس دی.
۴- کله چې خلک ستا څخه مخ واړوي:
الله تعالی فرمايي: فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وهو رب العرش العظيم.[التوبة: ۱۲۹]
ژباړه: که دوی له تا څخه مخ واړوي نو ته ووايه الله تعالی زما بس دی، نشته حق معبود مګر دی دی، پر ده زما توکل دی او دی د لوی عرش رب دی.
۵- له دښمنانو سره د سولې کولو په وخت کې:
الله تعالی فرمايي: وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَها وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ. [الأنفال: ٦١]
ژباړه: که دوی سولې ته غاړه کېښودله نو ته هم غاړه ورته کېږده او په الله توکل وکړه.
۶- له دښمن سره د مخامخ کېدلو په وخت کې:
الله تعالی فرمايي: وَما لَنا أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللَّهِ وَقَدْ هَدانا سُبُلَنا وَلَنَصْبِرَنَّ عَلى ما آذَيْتُمُونا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ.[ابراهيم۱۲] ژباړه: څه شی دی موږ لره چې پر الله تعالی به توکل نه کوو په داسې حال کې چې موږ يې زموږ لارې ته هدايت کړي يو او موږ به اورمرو پر هغه آزار باندې صبر کوو چې تاسې يې موږ ته رسوئ او پر الله توکل کوونکي توکل کوي.
۷- د مشکلاتو د راتللو په وخت کې:
الله تعالی فرمايي: قُلْ لَنْ يُصِيبَنا إِلَّا ما كَتَبَ اللَّهُ لَنا هُوَ مَوْلانا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ.[التوبه۵۱]
ژباړه: ووايه چې موږ ته نه رسېږي مګر هغه څه چې الله زموږ لپاره ليکلي وي دی زموږ بادار دی او پر الله (ج) بايد مؤمنان توکل وکړي.
۸- له کوره د وتلو په وخت کې:
په حديث شريف کې راځي: کله چې سړی له کوره وځي بايد ووايي: بسم الله توکلت علی الله لا حول و لا قوة إلا بالله.

## افتتاح یک مسلخ معیاری ...

زمینۀ ذبح حلال و صحی مرغ فراهم گردیده است و از آلودگی محیط زیست نیز جلوگیری می‌شود».
در همین حال، مسوولان محلی بلخ ایجاد این کشتارگاه مرغ را برای صحت باشندگان مهم دانسته و از دیگر تاجران نیز می‌خواهند که در این بخش سرمایه‌گذاری کنند.
در سال‌های پسین به علت پیش‌گیری از ذبح خودسر در جاده‌ها که سبب آلوده‌گی محیط می‌شود، حکومت تلاش دارد تا کشتارگاه‌های معیاری خصوصی و دولتی را ایجاد کند.
پیش از این نیز یک کشتارگاه عمومی برای حیوانات و یک کشتارگاه خصوصی مرغ در شهر مزارشریف ساخته شده است.

## تقدیر از نیروهای ...

خصوصاً در روزهای عید سعید فطر تقدیر و تشکری کرده این همه آرامش را مدیون خدمات شایسته آنها دانست.
مفتی محمد مقتصد، قوماندان لوای مستقر در سرپل، فعالیت نیروهای امنیتی متشکل از اردو، پولیس و استخبارات را در راستای تأمین امنیت کامل شهروندان سرپل قابل تقدیر دانست و این مراسم را ارج گذاری بر فعالیت آنان عنوان کرد.
در همین حال داملاضیاءالدین بدری، معاون استخبارات و مولوی محمدعارف طاهر آمر امنیت قوماندانی امنیه سرپل نیز از پلان های امنیتی والی و دیگر مسوولان سرپل تشکری کردند و خدمات منسوبین و مسؤولین امنیتی را قابل ستایش دانستند.

## ۷ میلیونه افغانانو ...

داسې وخت خپرېږي چې د روغتيا وزارت وايي، په دې ويروس د اخته کسانو شمېر بيا زيات شوی دی. د دغه وزارت وياند شرافت زمان ويلي چې د ۲۰۲۳ کال له لومړيو د کرونا ناروغۍ د مثبتو پېښو شمېر له ۱۶۰۰څخه تر ۱۷۰۰ پورې رسېدلی و، خو په تېره يوه مياشت کې دا شمېر تر ۲۵۰۰ ډېر شوی دی. يونېسف په خپل ټويټ کې ويلي چې پنځلس لکه ماشومان بيا د شري يا سرخکان په وړاندې واکسين شوي دي.

## نجات کودکی پس ...

و به همکاری مجاهدین قول اردوی ۲۱۵ عزم زنده نجات داده شد.
کودک نامبرده، پس از ۱۸ ساعت تلاش‌های پی هم تیم فنی وزارت دفاع ملی زنده بیرون آورده شد و غرض درمان به بیمارستان منتقل و.
مسوولان شفاخانه ولایتی فراه از وضعیت خوب صحی کودک نیز اطمینان دادند.این در حالی است که حکومت بارها از مالکان چاه‌های عمیق درخواست نموده است که سر چاه‌های آب را بپوشانند تا از وقوع چنین حوادثی جلوگیری شود، اما نگریسته می‌شود که مردم بی اعتنایی نموده و هر از گاهی چنین حوادث ناگواری رخ می‌دهد.

## آغاز روند گسترش خدمات ...

خدمات تلفونی و خدمات سریع انترنتی بهره مند می‌شوند.» مسئولان در ریاست مخابرات ولایت پکتیا هم که در این مراسم اشتراک کردند می‌گویند علاوه بر ولسوالی زرمت در بسیاری از مناطق دوردست این ولایت سایت‌های جدید را فعال خواهند کرد.نصرت الله هجرت، رییس مخابرات و تکنالوژی ولایت پکتیا می‌گوید: «تمام ساحات ولسوالی‌های پکتیا را که درآن خدمات مخابراتی وجود ندارد، در برنامه گرفته ایم، مانند زرمت و سایر ولسوالی ها.» حضرت محمد وطنپال، مسئول ولایتی اداره اترا می‌گوید: «ما از این بیشتر تلاش می‌کنیم. اداره اترا هم قصد دارد ساحات محروم را زیر پوشش بیاورد.»
با این حال باشندگان ولایت پکتیا از شرکت‌های مخابراتی خصوصی و دولتی می‌خواهند که با توجه به وسعت این ولسوالی، فعالیت‌های خود را گسترش دهند.عبدالحمید فیضان، باشنده ولسوالی زرمت پکتیا می‌گوید: «بیست سال می‌شود که زرمت با مشکلات مخابراتی مواجه است. از شرکت افغان بیسیم بسیار تشکر که مشکلات ما را حل کرد.»
بربنیاد معلومات ریاست مخابراتی و تکنالوژی ولایت پکتیا، پس از روی کار آمدن امارت اسلامی تاکنون حدود ده سایت جدید مخابراتی در این ولایت فعال شده است.

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 27 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 166

# افتتاح یک مسلخ معیاری به هزینهٔ یک میلیون دالر امریکایی در بلخ



شریعت: یک کشتارگاه معیاری مرغ به ارزش یک میلیون دالر امریکایی در بلخ افتتاح شد. یک کشتارگاه معیاری مرغ توسط یک تاجر ملی به هزینهٔ یک میلیون دالر امریکایی در شهر مزارشریف ایجاد گردید.
این کشتارگاه مرغ توسط مسوولان محلی بلخ و مالک آن افتتاح و به بهره‌بردای سپرده شد. مسوولان ریاست زراعت بلخ در مراسم افتتاح این کشتارگاه گفتند: «که با افتتاح این مسلخ ص۵


# کندهار کې د وړیو راټولولو مرکزونه جوړېږي

د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په لسو ولسوالیو کې د پسونو د وړیو راټولولو مرکزونه جوړېږي، چې له دې لارې به یې شاوخوا زر تنه په کار وګومارل شي.
د دغه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د کرنیزو محصولاتو آمر مولوي شمس الرحمن موسی وايي، چې د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست تر رهبرۍ لاندې د DCA موسسې په مالي لګښت په ارغنداب، معروف، خاکرېز، پنجوايي، میوند، تخته پل، ژړۍ او شاولیکوټ ولسوالیو ۵مخ



# برېښنا شرکت: روان کال به د ماهیپر توربین ورغول شي

برېښنا شرکت وايي، د خپلو پورونو راټولولو لپاره یې یوه کمېټه جوړه کړې ده. د برېښنا شرکت عملیاتي رییس وايي، دغه کمېټه د یاد شرکت استخباراتو او کورنیو چارو وزارت له استازو جوړه شوې ده. برېښنا شرکت وايي، چې په ۱۴۰۱ کال کې د دغه شرکت عواید زیات شوي دي. د برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې تمه کېږي چې په روان ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ماهیپرتوربین بیا ورغول شي او د دغه بند ظرفیت ۲۵ میګاواټو ته لوړ شي.



# د بغلان د ټولګټو ریاست غصب شوی ملکیت بېرته راوګرځول شو



شریعت: بغلان کې د ټولګټو ریاست څلور جریبه ملکیت چې تېر شل کاله غصب شوی و، بېرته د ټولګټو ریاست ملکیت وګرځول شو. د دغه ولایت د ټولګټو ریاست مسؤلین وايي، چې تېر شل کاله د مرکزي بغلان ولسوالۍ په اقامتګاه سیمه کې چې د ټولګټو ریاست د کار د قوې ودانۍ وه د راغلیو جوګیانو له لوري غصب ۵مخ

# آشفته حالی اردوغان در یک برنامه تلویزیونی

اردوغان در یک برنامه تلویزیونی دچار عارضهٔ جسمی شد.
رجب طیب اردوغان رئیس جمهور ترکیه در اثنای گفتگوی تلویزیونی دچار مشکل جسمانی شد که این موضوع باعث قطع برنامه برای دقایقی شد.
رجب طیب اردوغان رئیس جمهور ترکیه در گفتگوی زنده تلویزیونی با شبکه های «چینل ۷» و «اولکه تی وی» به دلیل خرابی حالش مجبور به قطع برنامه شد.
وی بعد از چند دقیقه به برنامه بازگشت و با عذرخواهی از بینندگان گفت: دیروز و امروز کمپاین‌های سنگینی داشتیم و معده ام دچار سردی شد تا آنجا که تردید داشتم که این برنامه را لغو کنم یا نه ولی در نهایت تصمیم به آمدن گرفتم.
این برنامه بعد از مدتی کوتاه پایان یافت.




مسوولان محلی:

# امنیت در بدخشان تأمین است



شریعت: مسوولان در بدخشان می‌گویند، با اینکه این ولایت با سه کشور مرز مشترک دارد اما هیچ گونه تهدید امنیت و ناامنی در این ولایت وجود ندارد.
از سوی هم، شهروندان بدخشان با استقبال از تامین امنیت سرتاسری در کشور می‌گویند که... ص۵

# د لوګر مستوفیت ۱۲۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي


شریعت: د لوګر ولایت د مستوفیت مسؤلین وايي، چې د تېر یوه کال په موده کې یې ۱۲۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي. د لوګرولایت مستوفي مولوي اکرام الحق وايي: د تېر ۱۴۰۱ کال په موده کې له بېلابېلو برخو څخه ۱۲۰ میلیونه افغانۍ عواید ترلاسه کړي دي، چې راټول شوي عواید د ۱۴۰۰ کال له عوایدو څخه ۱۶ سلنه زیاتوالی ښيي. د لوګر مستوفي زیاتوي، سره له دې، چې د امیرالمومنین حفظه الله لخوا د تېر حکومت مالیه معاف شوې، بیا هم یاد عواید ترلاسه ۵مخ

# خوشنودی شهروندان بادغیس از امنیت سراسری

شهروندان شهر قلعه نومرکز بادغیس از وضعیت امنیتی درین ولایت به خصوص روز های عید استقبال کردند. این شهروندان می‌گویند، با پیروزی امارت اسلامی وضعیت امنیتی درین ولایت تامین وتمام مردم ازین حالت استقبال و رضایت مند می باشند. حبیب الله یک شهروند مرکز بادغیس به خبرنگار آژانس باختر گفت که مجاهدین امارت اسلامی شب و روز به خاطر تامین امنیت و خدمت به مردم تلاش کرده وامنیت درسرتاسر ولایت به شمول ولسوالی ها کاملاً تامین بوده ومردم بخاطر آرام به تجارت وکار های روز مره شان ادامه می‌دهند وهیچ مشکل درین زمینه ص۵

# پاکسازی بازار کارته‌نو از وجود بی نظمی‌ها

شریعت: به منظور ایجاد سهولت به شهروندان، مسوولان ناحیه هشتم شهر کابل، ساحات بازارکارته نو را از وجود بی نظمی‌های شهری پاکسازی نمودند. مسوولان ناحیه هشتم شهر کابل می‌گویند که در جریان این پاکسازی، موانع و پیش برآمد دوکان‌ها و موارد غصب سرک و پیاده رو پاکسازی شده به فعالیت کنندگان اصناف و دستفروشان تفهیم گردید که به بهانه‌های مختلف نباید باعث مسدودی راه عام گردند، زیرا سرک و پیاده‌رو ملکیت عامه به شمار می‌رود.
همچنان ساحه متذکره پس از انتقال کراچی‌ها و موانع جاروب کشی شده و زباله‌های تولیدی جمع آوری و انتقال گردید. زندگی شهری وابسته به رعایت اصول و مقررات شهری می‌باشد که با پیروی از آن، زندگی مرفه و آسایش برای عموم شهروندان فراهم خواهد شد.




درخواست شماری از سیاسیون امریکا:

# وضعیت صحی جو بایدن باید مورد بررسی قرار گیرد

نماینده جمهوری‌خواه مجلس امریکا و پزشک اسبق چندین رئیس جمهوری این کشور، نامه‌ای را در میان هم‌حزبی‌هایش در مجلس توزیع کرده که در آن از جو بایدن خواسته تا از منظر اختلال مشاعر مورد بررسی قرار گیرد یا از رقابت‌های انتخابات سال ۲۰۲۴ کناره‌گیری کند.
سایت شبکه خبری فاکس نیوز نوشت که رانی جکسون نماینده‌ی جمهوری خواه ایالت تگزاس چندین بار خواهان انجام آزمایش برای بررسی صحت مشاعر رئیس جمهوری دموکرات شده و آخرین بار در جولای ۲۰۲۲ نامه ای در این مورد تنظیم کرد که به امضای بیش از ۵۰ نماینده جمهوری‌خواه مجلس رسید. جدیدترین درخواست جکسون دیروز (سه‌شنبه) و پس از اعلام رسمی نامزدی جو بایدن ۸۰ ساله در رقابت های ۲۰۲۴ مطرح شد.
بر پایه این گزارش... ص۵

# د شلو کلنو د فوټسال ملي لوبډله له ایران سره لوبه کوي

د افغانستان د شل کلونو فوټسال ملي لوبډله له ایران سره دوستانه لوبه کوي. د هېواد د فوټبال فدراسیون په خپله فېسبوک پاڼه لیکلي چې دغه لوبه د فوټسال د رسمي سیالیو د چمتووالي لپاره د غويي په نهمه په تهران ښار کې ترسره کېږي.
د فوټبال فدراسیون دغه راز زیاته کړې، چې د افغانستان د ۲۰ کلنو فوټسال ملي لوبډلې... ۵مخ




# سنگ تهداب مسجدی در بغلان گذاشته شد

شریعت: کار ساخت یک محراب مسجد جامع و مدرسهٔ دینی در قریه ارزنگان ولسوالی بنو ولایت بغلان آغاز گردید.
مسوولان در ولایت بغلان می‌گویند: این مسجد به هزینهٔ بیش از سه میلیون افغانی به حمایت مالی مردم در یک طبقه به شکل پخته و اساسی که گنجایش نزدیک به ۵۰۰ نماز گزار را خواهد داشت اعمار می‌گردد.
در همین حال باشنده گان محل ساخت مسجد و مدرسه را در قریه شان یک نیاز جدی عنوان کرده از امارت اسلامی می‌خواهند در ساخت این مسجد همکاری نمایند.